# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي لسمه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۳۰مه | ۶۵۵مه ګڼه


# په یوه کال کې ۱۸زره بریدونه؛

## امنيتي اداري: طالبانو په مذاکراتو کې د امتیازاتو لپاره تاوتریخوالی ډېر کړی



۳

### ډېربدونکې نا امنی او د چاړواکو تکراري ژمنې!

۲ مخ

### تاریخ به د ۲۰۲۰ کال په اړه څه ولیکي؟

۲ مخ

### چرا دیموکراسی در خاور میانه به بن‌بست خورد؟

۳ مخ

مونډني:

## ۴۰ سلنه افغان ماشومان له خوارځواکۍ سره مخ دي

د تازه موندنو له مخې، په افغانستان کې ۴۰ سلنه ماشومان له خوارځواکۍ سره مخ دي. ابن پي ار راډيو په يوه راپور کې په افغانستان کې روان وضعيت او د کرونا له امله رامنځته شوي ناورين ته کتنه کړې ده.

په راپور کې راځي، چې په افغانستان کې د خلکو اقتصادي وضعيت کمزورى شوی او د نړيوالو له ميلياردونو ډالرو مرستو سره سره، د ملکي وګړو په ژوند کې هېڅ راز مثبت تغير نه دی راغلی. سرچينه وايي چې همدا اوس د کمزوري اقتصاد له امله ۴۰سلنه ماشومان له خوارځواکۍ سره مخ دي. په دې راپور کې ځينو خلکو نظر ورکړی او وايي چې نړيوالو بنسټونو، د بشري حقونو فعالينو او لسګونو فساد ضد موسسو په افغانستان کې حضور درلود، خو د دوی په مخ کې ميلياردونه ډالر تري تم شول او د افغانانو پر ژوند يې مثبت تاثير نه درلود.


په دې اړه تر دې وړاندې هم ګڼ نړيوال راپورونه خپاره شوي او پکې راغلي چې لوږه سلنه افغانان د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي او د هېواد نيمايي نفوس ان د لومړنيو خوراکي توکو مرستې ته هم اړ دي.

دا راپور داسې مهال خپرېږي چې تر دې وړاندې هم ملګرو ملتونو په افغانستان کې د کرونا ويروس له کبله د ډېرېدونکې بېوزلۍ او د خوړو د نه خونديتوب په اړه خبرداری ورکړی و.

ار اس ایف: افغانستان په نړۍ کې د خبریالانو لپاره له پنځو خطرناکو هیوادونو څخه دی




۲ مخ







## کتاب


۴ مخ

### حکومتونه څه ډول چلېږي؟




په دې اثر کې د حکومت فلسفه، دندې يې د رامنځته کېدو او پیاده کېدو بهیر، بېلابېل حکومتي نظامونه، د حکومت د ځواک او کمزورۍ لاملونه او د نړۍ د بېلابېلو حکومتونو ځینې بېلګې لوستلای شی.

## کرنې وزارت: روان کال په هېواد کې د وریجو کرکېله او حاصلات ۱۵ سلنه زیات شوي



د کرنې او مالدارۍ وزارت او د احصایې او مالوماتو ملي ادارې، له ځانګړو شمېرې اخیستونکو څخه په استفادې سره «د ۱۳۹۹ یم کال د وریجو تولید راپور» تر عنوان لاندې ګډ راپور چمتو کړی، چې ښيي په هېواد کې د وریجو کرکېله او حاصلات د ۱۳۹۸ یم کال په پرتله په ۱۳۹۹ یم کال کې نږدې ۱۵ سلنه زیات شوي دي.

تېرکال د وریجو حاصلات ۳۸۳ زره مټریک ټنه وو، خو د نوې سروې د راپور پر بنسټ، روان کال د ۵۷ زره ټنو په زیاتوالي سره دغه حاصلات ۴۴۰ زره مټریک ټنو ته رسېدلي دي.

دغه راز تېرکال د هېواد د شولې کرونده ۱۲۸ زره هکټاره وې، په داسې حال کې چې د نوې سروې پر اساس، سږکال د شولې کرونده د ۱۹.۵ زره هکټارو په زیاتوالي سره، ۱۴۷.۵ هکټارو ته رسېدلي دي.

یادې اخیستل شوې شمېرې د شولې له کرکېلې تر حاصل ټولولو، ټول وخت چې نږدې پنځه میاشتې کېږي، رانغاړي.

## امنیت ملی و لوی څارنوالی چهارتن از نزدیکان وزیرصحت عامه را به اتهام فساد بازداشت کرده است




امنیت ملی و لوی څارنوالی مشترکاً چهارتن از نزدیکان وزیرصحت عامه را به اتهام اخذ رشوه بازداشت کرده اند .

یک منبع موثق به اژانس خبری پژواک گفته است که این چهارتن ساعت شش ونیم شام دیروز از وزارت صحت بازداشت شدند و فعلا درنظارت خانه قوماندانی امنیه کابل تحت تحقیق قرار دارند.

منبع افزوده است که افراد بازداشت شده از روسای ولایتی صحت عامه درخواست رشوه می کردند که ازسوی موظفین امنیت ملی و لوی څارنوالی گرفتارشده اند .

به نقل از منبع، درمیان افراد مذکوراحمد شکران عثمانی برادر وزیرصحت عامه که دراین وزارت مسئولیت رسمی ندارد، کاوه سرمست زاده پسرکاکا، حامد حمیدی فرامرز پسرخاله وفریدون سلطانی مشاورارشد وزارت شامل می باشند.

یک منبع در لوی څارنوالی این قضیهٔ مرتبط به وزارت صحت عامه را تائید کرد اما از ارائه جزئیات بیشتر اباء ورزید . اما یک منبع دیگر در وزارت صحت عامه گفته است که کلیپ صوتی درخواست رشوه ازسوی فریدون سلطانی به دسترس لوی څارنوالی قرار گرفته وبه اساس آن این افراد را بازداشت کرده اند .

جمشید رسولی سخن گوی لوی څارنوالی تایید کرده است که این موضوع حقیقت دارد و درخصوص این قضیه تمامی جزئیات با رسانه ها شریک می گردد .

## سرلیکنه

# ډېرېدونکې نا امنۍ او د چارواکو تکراري ژمنې!

د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح ته د کابل ښار د امنیتي مسوولیت له سپارلو دوې میاشتې اوړي، خو نه یوازې دا چې په امنیتي وضعیت کې ښکاره بدلون رامنځته نه شو، بلکې د پخوا په پرتله وضعیت نور هم خراب شوی دی. پر کابل سربېره، د هېواد په نورو لویو ښارونو کې هم امنیتي وضعیت ورځ تر بلې ترینګلی کېږي. د مقناطیسي ماینونو چاودنو، هدفي وژنو، مرګونو جنایي پېښو او وسله والو غلاوو، د کابل په ګډون د ګڼو نورو ښارونو د اوسېدونکو ژوند تریخ کړی دی. چارواکي بیا هم د پخوا په څېر تکراري او فېسبوکي ژمنې کوي، خو وضعیت ورځ تر بلې د ترینګلتیا پر لور روان دی.

د جنایي پېښو او وسله والو غلاوو د ډېرېدو ترڅنګ، د هېواد په ګوټ ګوټ، آن په ډېرو حساسو او تر سختو امنیتي تدابیرو لاندې سیمو او ښارونو کې هره ورځ هدفي وژنې کېږي، د مقناطیسي ماینونو چاودنې کېږي، خو حکومت یوازې د روان وضعیت نانډره کوي، هرڅه یې تر یوې اعلامیې خپرولو، غندنې او د وژنو د ارقامو تر اعلان پورې محدود کړي. خو بلخوا د سیاسي مشرانو، قومي مخورو، ژورنالیستانو او د مدني ټولنې د مشرانو وژنې ورځ تر بلې په ډېرېدو دي. که څه هم د دغو بریدونو او چسپکي ماینونو مسوولیت په ښکاره توګه څوک پر غاړه نه اخلي. حکومت او په تېره بیا د امنیتي ادارو چارواکي دا ډول بریدونه او چاودنې د طالبانو کار بولي، خو طالبانو بیا بیا د حکومت دغه ادعاوې رد کړې دي. په ولایتونو او لرې پرتو سیمو کې د جګړو او نښتو ترڅنګ، د کابل ښار په ګډون په نورو ښارونو کې هدفي وژنو او د چسپکي ماینونو چاودنو خلک اندېښمن کړي، خلک او د ملي شورا غړي، کشفي او امنیتي ادارې د دا ډول پېښو په مخنیوي کې ناکامې بولي. همدا پرون هم مشرانو جرګې د وروستیو مرمزو وژنو او د امنیتي وضعیت د خرابېدو په تړاو د کورنیو چارو وزیر مسعود اندرابي د ملي امنیت رییس احمد ضیا سراج د تېرې ورځې غونډې ته وربللي وو. نوموړي وویل چې د وروستیو هدفي بریدونو او ماین چاودنو تر شا طالبان لاس لري او په خبره یې، د دوحې تر هوکړې وروسته طالبانو د مذاکراتو پر مېز د امتیاز تر لاسه کولو لپاره خپلو بریدونو او په ښارونو کې د دولتي کارکوونکو، خبریالانو او مدني فعالانو ترور ته زور ورکړی دی.

خو حقیقت دا دی چې د امنیتي ادارو د مسوولینو دا ډول توجیهات او دلیلونه نور ډېر تکراري او کلیشه شوي دي. خلک نور په دا ډول خبرو باور نه کوي، بلکې د وضعیت د ښه کېدو لپاره له حکومت څخه د کوټلو ګامونو پورته کول غواړي. چارواکي باید نور د تکراري ژمنو، فیسبوکي حکومتولۍ او تشو شعارونو پرځای عملي ګامونه اوچت کړي، د وضعیت د ښه والي لپاره دې منظم پلان او پروګرام جوړ کړي، ټول هغه مفسد چارواکي دې له دندو ګوښه کړي چې د خپل اصلي مسوولیت پرځای پر نورو کارونو بوخت دي. امنیتي ادارې لاهم پراخو اصلاحاتو ته اړتیا لري، دا ادارې دې د سیاسي معاملو له دامونو را ویستل شي او خپلو اصلي مسوولیتونو ته دې متوجه کړل شي. روان وضعیت هېچا ته نور د منلو نه دی، خلک له دې حالت ستړي شوي او د وضعیت د ښه والي لپاره ژمنې نه، بلکې عملي اقدامات غواړي.

# تاریخ به د ۲۰۲۰ کال په اړه څه ولیکي؟

لیکنه: سیدالرحمن سالار

وخت په چټکۍ سره د تېرېدو په حال کې دی، دا دي ۲۰۲۰ کال هم د ختم په درشل کې دی او تاریخ لیکوونکي به د دې کال لوړې ژورې ثبت کړي.

دې کال هم د افغانستان او هم په نړیواله کچه ډېرې نادرې پېښې درلودې چې له دې مخکې نه وې تجربه شوې.

د افغانستان لپاره په ۲۰۲۰ کال کې تر ټولو مهم خبر په قطر کې د طالبانو او امریکایانو تر منځ د سولې مشروط تړون او بین الافغاني ناسته ده.

له بده مرغه له تېرو څه باندې څلوېښتو کلونو راهیسې، د هر کال په پای کې د خبرونو سرټکي دا وي چې تېر کال د افغانستان لپاره ډېر خونړی و، متاسفانه د ۲۰۲۰ کال لپاره هم همدا خبره ده، موږ یو خونړی کال تېر کړ، په دې کال کې مو په زرګونو هېوادوال له لاسه ورکړي، چې په دې سره په هېواد کې د بې سرپرستو یتیمانو او غمجنو والدینو شمېر ور زیات شو.

د دې تر څنګ، ځینې مثبت خبرونه هم لرو او هغه دا چې په تېره څلور لسیزه جګړه کې د لومړي ځل لپاره د سولې لپاره هم په کور دننه او هم په نړیواله کچه یوه اجماع رامنځ ته شوه.

د طالبانو او امریکا تر منځ له افغانستان څخه د بهرنیو پوځیانو د وتلو په اړه شوی توافق، د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د څه باندې شپږ زره بندیانو تبادله او بین الافغاني خبرې، په افغانستان کې د ۲۰۱۹ کال د جنجالي ولسمشریزو ټاکنو په نتیجه کې په ۲۰۲۰ کال کې د مارچ په اتمه په همهاله توګه په ارګ او سپېدار ماڼۍ کې د دواړو مخکښو ټاکنیزو ټیمونو د مشرانو لخوا ځانونه د ولسمشر په توګه اعلانول او د لوړې مراسم، د بهرنیو فشارونو او ځینو بانفوذه کورنیو سیاسیونو لخوا د ولسمشر اشرف غني او عبدالله عبدالله تر منځ د واک شریکېدو په اړه سیاسي توافق، د ملي مصالحې عالي شورا رامنځ ته کېدل، د کووېډ- ۱۹ ویروس برید او بالاخره د لومړي ځل لپاره افغانستان د رېل پټلۍ له لارې له ایران سره وصلېدل په ۲۰۲۰ کال کې د افغانستان مهم خبرونه دي.

۲۰۲۰ کال د نړۍ لپاره هم له ستونزو او جنجالونو ډک و

په ۲۰۲۰ کال کې نړۍ له کووېډ- ۱۹ ویروس سره لاس او ګرېوان وه او یاد ویروس د نړۍ په هر ګوټ کې سر راښکاره کړ، هغه ویروس چې مخکې نه و پېژندل شوی او په ټولو هېوادونو کې یې د تعریف شوي ژوند په ټولو برخو کې د پام وړ بدلونونه رامنځ ته کړل.

د روغتیا نړیوال سازمان په مارچ کې د کرونا نوی ډول ویروس یوه نړیواله وبا اعلان کړه.

د نړۍ بېلابېلو هېوادونو د دغه ناپېژندل شوي ویروس د کابو کولو لپاره بې مخینې اقدامات تر سره کړل، خپلې پولې یې وتړلې، هوایي، ځمکني او سمندري ټرافیک بند شول، د ګڼې ګوڼې عامه ځایونه تعطیل او نړیوال ټرانسپورټي فعالیتونه نهایت محدود شول، د زده کړو سیستم په لومړیو کې په ټپه ودرېد او وروسته دغه سیستم انلاین شو او ان د ښارونو تر منځ د خلکو په تردد کې هم محدودیتونه وضع شول.

په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلۍ په ګډون، مهمې نړیوالې غونډې په غیر حضوري ډول د ویډیوکنفرانس له لارې تر سره شوې.

د کووېډ- ۱۹ له امله نړیوال اقتصاد هم سخت زیانمن شو، د نفتو بیې را ولوېدې، نړیوال هوایي چلند، صنعت او سیلانیز شکتونه سخت زیانمن شول.

د نورو برخو تر څنګ یې ورزش هم سخت اغېزمن کړ او د توکیو ۲۰۲۰ المپیک لوبې ۲۱ کال ته وځنډول شو.

د روغتیا نړیوال سازمان د معلوماتو له مخې تر اوسه په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس له ۷۵ میلیونو ډېرې پېښې ثبت شوې او له امله یې له یو میلیون او شپږو سوو زرو ډېر کسان مړه شوي دي.

په امریکا کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر د نورو هېوادونو په پرتله ډېر او کابو ۱۷ میلیونو تنو ته رسېدلی، ورپسې هند، برازیل، روسیه، فرانسه، اسپانیا، انګلستان، ایټالیا، ارجنټاین او کلمبیا هېوادونه دي.

د رسنیو د معلوماتو له مخې، تر اوسه په نړۍ کې د کرونا ویروس ضد له ۲۰۰ ډېر بالقوه واکسینونه د تولید په حال کې دي چې د چین، روسیې، انګلستان او امریکا درمل جوړوونکو شرکتونو لخوا جوړ شوي واکسینونه د کلینیکي ازموینې د درېیم پړاو په نهایي مرحله کې دي، په ځینو هېوادونو کې دغه واکسینونه تایید شوي او د عامه تطبیق مرحلې ته رسېدلي.

په روسیه، انګلستان، امریکا او اسراییلو (نیواکي فلسطین) کې په پراخه توګه خلکو ته د واکسین تطبیق پیل شوی. په سپټمبر کې په انګلستان او په ډسمبر کې په هالنډ او په دې وروستیو کې په ډېری اروپایي هېوادونو کې د کرونا ویروس د نوي ډول ثبتېدل هم تایید شوي چې د طبپوهانو په خبره، د سرایت قدرت یې د پخواني ویروس په پرتله اویا چنده زیات دی.

دا چې دغه ویروس لومړی په انګلستان کې تثبیت شوی، نو د اروپا په ګډون، ډېریو هېوادونو له یاد هېواد سره پروازونه بند کړي.

په ۲۰۲۰ کال کې په نړیواله کچه پوځي او سیاسي کړکېچونه

۲۰۲۰ کال د نړیوال سیاست په ډګر کې هم د ډېرو بدلونونو شاهد و چې د امریکا جنجالي ولسمشریزو ټاکنو او د دغه هېواد په ټولنه کې د مېشتو نژادونو تر منځ اختلافونو ډېرېدل، د امریکا- چین، امریکا- روسیې، امریکا- ایران، امریکا- ترکیې، ایران- عربستان تر منځ د اړیکو خرابېدل او دغه راز د امریکا د «پېړۍ معاملې» طرحې په رڼا کې د اسراییلو او ځینو عربي هېوادونو تر منځ د اړیکو جوړېدل، ارمنستان- آذربایجان تر منځ جګړه او ناګورنا قره باغ سیمه له ۲۷ کاله نیواک وروسته د ارمنستان له ولکې څخه وتل او یوځل بیا د اذربایجان برخه کېدو ته اشاره کولای شو.

له ځینو عربي هېوادونو سره د اسراییلو رسمي اړیکو جوړېدو د ترکیې او ایران سخت غبرګونونه او مخالفتونه را وپارول.

د امریکا- چین، امریکا- روسیې، امریکا ترکیې هېوادونو تر منځ په مختلفو دلایلو اړیکې ترینګلې شوې.

امریکا د یادو هېوادونو پر ځینو تصدیو او شخصیتونو محدودیتونه وضع کړل.

۲۰۲۰ د امریکا او چین تر منځ له ناندریو ډک کال و، امریکا د چین پر ځینو لویو تصدیو او شخصیتونو بندیزونه ولګول او په مقابل کې یې چین هم ورته اقدام وکړ.

امریکا د روغتیا نړیوال سازمان له غړیتوبه ووتله او دغه راز په هاګ کې د نړیوالې جنایي محکمې پر هغو قاضیانو یې بندیزونه ولګول، چې په افغانستان کې یې د امریکایي پوځیانو د جنګي جنایتونو په اړه د پلټنې غوښتنه وکړه.

امریکا په عراق کې د ایران د سپاه پاسداران لوی قوماندان، جنرال قاسم سلیماني وواژه، ایران یې په ځواب کې په عراق کې د امریکا پر لویه پوځي اډه توغندیز برید وکړ.

چین په ۲۰۲۰ کال کې سپوږمۍ ته اکتشافي بېړۍ واستوله او په بریالۍ توګه یې ځمکې ته له سپوږمۍ څخه خاورې او شګې راوړې.

له دې وړاندې په ۱۹۷۶ کال کې پخواني شوروي اتحاد له سپوږمۍ څخه ځمکې ته د خاورو نمونې راوړې وې.

په امریکا کې جنجالي ټاکنې او په یاد هېواد کې د ټولنیز او سیاسي درېځ زیاتېدل

په امریکا کې د ۲۰۲۰ کال ولسمشریزې ټاکنې د یاد هېواد په تاریخ کې تر ټولو جنجالي ټاکنې وې، چې له امله یې په امریکایي ټولنه کې له پخوا څخه موجود درزونه لا ژور او ښکاره کړل.

دغه ټاکنې د نومبر په درېیمه تر سره شوې او د جوزف بایډن په بریالیتوب سره پای ته ورسېدې. ډونالډ ټرمپ یې مخالفت وکړ او ټاکنې یې ان د افغانستان تر ولسمشریزو ټاکنو هم بدې وبللې، د عدلي ارګانونو دروازې یې وټکولې، خو ګټه یې ونه کړه.

نوموړي ولسمشرۍ چوکۍ له لاسه ورکړه، خو د امریکا په سیاست کې یې خپل ځای له لاسه نه دی ورکړی، نوموړی هڅه کوي چې جمهوري غوښتونکی ګوند کنټرول او له دې لارې د امریکا په سیاست کې اغېزمن پاتې شي.

پردې سربېره، د پولیسو د یوه سپین پوستي افسر لخوا د جورج فلویډ په نوم د یوه تور پوستي وژل کېدو له امله پراخ اعتراضونه رامنځ ته شول، چې ان د امریکا تر پولو محدود نه شول، بلکې د نړۍ په ډېرو لویو ښارونو کې هم تر سره شول.

دا اعتراضونه چې د یاد هېواد د ټاکنیزو مبارزو په اوج کې رامنځ ته شول، د یاد هېواد سیاسي فضا یې بدله او د هغو محکومو نژادونو د اواز پورته کولو لپاره یې فرصت برابر کړ چې د نژاد، رنګ او قوم په پلمه ځپل شوي او محکوم شوي.

د امریکا په ځینو ایالتونو کې د ډونالډ ټرمپ پر ضد بې مخینې پراخ لاریونونه تر سره شول او ټرمپ یې پر توکم پالنې تورن کړ او له امله یې په امریکایي ټولنه کې موجود پخواني درزونه لا پسې ژور او په ډاګه شول.

## ار ایس ایف: افغانستان په نړۍ کې د خبریالانو لپاره له پنځو خطرناکو هېوادونو څخه دی




د بې پولې خبریالانو په کلني راپور کې چې پرون خپور شو، راغلي چې افغانستان په نړۍ کې د خبریالانو لپاره له پنځو خطرناکو هېوادونو څخه دی.

په دغه راپور کې راغلي چې د۲۰۲۰ ز کال له پیل نه تر دې دمه په دغه هېواد کې لږ تر لږه د پنځو وژل شویو خبریالانو قاتلین نه دي معلوم. دغه راپور زیاتوي، مکسیکو، عراق ، افغانستان، هندوستان او پاکستان هغه هېوادونه دي، چې د خبریالانو لپاره د هغوی د کار له امله یې پر وړاندې ګواښونه زیات دي.

بل خوا د افغانستان د خبریالانو د خوندیتوب کمېټه هم په دې وروستیو کې د خبریالانو د هدف ګرځېدو او وژنو په اړه اندېښنه ښيي.

د دغې کمېټې مشر نجیب شریفي وایي چې دوی له یو شمېر خبریالانو، مدني فعالانو او په ټولنه کې له ټولو فعالو وګړو سره په ګډه د «خبریالان مه وژنئ» په نوم یو کمپاین هم پیل کړی دی.

شریفي زیاتوي: «د دغه کمپاین هدف دا دی چې موږ غواړو د ټولنیز ځواک له لارې په هغو کسانو چې خبریالان وژني، فشار راوړو، موږ ګورو چې په دې وروستیو کې د خبریالانو وژنې زیاتې شوې او موږ یې په اړه شدیداً اندېښمن یو.»

شریفي وایي، د دې لپاره چې خبریالان او رسنۍ په ټولنه کې مهم رول لوبوي، اړتیا ده چې د ټولنې ټول وګړي د هغوی د حقونو لپاره عدالت غوښتنه او ترې ملاتړ وکړي.

د بې پولې خبریالانو په راپور کې راغلي چې سږکال په ټوله نړۍ کې ۵۰ خبریالان د هغوی د کار له امله وژل شوي دي. په دغه راپور کې ویل شوي چې په تېرو لسو کلونو کې بیا په ټوله نړۍ کې۹۳۷ تنه خبریالان وژل شوي چې په خبره یې، دا د بیان د ازادۍ لپاره ستر ګواښ بلل کېږي.

همدارنګه په دغه راپور کې د کرونا ویروس په اړه چې له امله یې سلګونه خبریالان په نړۍ کې مړه شوي، هم ویل شوي، خو دا چې په دې ناروغۍ څومره ژورنالېستان اخته دي، تر دې مهاله نه دي په ډاګه شوي.

# چرا دیموکراسی در خاور میانه به بن‌بست خورد؟

سید جمال اخگر

لیلا بوعزیزی بعد از این که برادرش محمد ده سال پیش خود سوزی کرد، می گوید: «می دانید یک جوان چگونه وادار به انجام چنین کاری می شود؟»
مامورین پولیس در کشور تونس کراچی میوه فروشی محمد را ظاهراً به دلیل نداشتن جواز، اما در حقیقت به دلیل رشوه و اخاذی توقیف کرده بودند.
این امر برای محمد جوان نهایت تحقیر به حساب می آمد، محمد بوعزیزی قبل از این که بالای خود تیل پطرول بریزد فریاد زد: «من خرچ زندگی ام را چگونه بدست بیاورم ؟»
آوازه ای این عمل محمد جوان در سراسر خاور میانه، جایی که میلیون ها نفر دیگر به سرنوشت وی دچار هستند منتشر شد که باعث خشم مردم از رهبران ستم گر و فاسد شان در قالب بهار عربی غلیان کرد.
پس از خشم روز افزون قیام‌های مردمی دیکتاتوران کشورهای مصر، تونس، لیبیا و یمن را از اریکه قدرت به پایین کشید، برای لحظات به نظر می رسید که بلاخره دیموکراسی پا به جهان عرب گذاشت.
اکنون پس از گذشتن یک دهه از بهار عربی، هیچ نوع بزرگداشت برای این روز برنامه ریزی نشده است. این تجارب دیموکراسی فقط در کشور تونس نتیجه داده است ولی در مصر ناکام بود و منجر به کودتای نظامی شد. در لیبیا، یمن و بدتر از همه در سوریه منجر جنگ های داخلی آغاز شد و قدرت های خارجی را نیز دخیل ساخت، بهار عربی به شکل سریع به زمستان تلخ تبدیل شد، طوری که حالا بسیاری مردم خاور میانه دیگر به این منطقه امیدی ندارند.
تاکنون کشورهای خاورمیانه شاهد تحولات زیادی بوده است، اما وضعیت بهتر نشده است. رهبران مستبد جهان عرب نگران اند، زیرا با پایین‌آمدن قیمت نفت، رهبران کشورهای دارای نفت نیز دیگر نمی توانند با پرداخت تشویقی های کلان و مناصب دولتی شهروندان شان را تطمیع کنند.
بسیاری از این رهبران بدگمان‌تر و ظالم‌تر از یک دهه قبل شده اند. محمد بن سلمان از عربستان سعودی خویشاوندان خود را زندانی می‌کند. عبدالفتاح السیسی مصر مطبوعات و آزادی بیان را خفه کرده و جامعه مدنی این کشور را سرکوب کرده است. درسی که خودکامه‌ها از بهار عربی آموخته‌اند، این است که هر جرقه‌ی نارضایتی و مخالفت را سریع و در نطفه باید خاموش کرد تا مبادا بیشتر گسترش یابد.
این منطقه نسبت به سال ۲۰۱۰ بسته‌تر و مردم آن احتمالا خشم‌گین‌ترند. خاورمیانه را جنگ‌ها، جهاد، مهاجرت و کووید-۱۹ تکان داده است. فعالین معتقد اند که عرب‌ها دیگر حاضر به تحمل بدبختی‌های همیشگی نیستند و می‌گویند که نسبت به گذشته مطمئن هستند که می توانند تغییر ایجاد کنند. یکی از آن‌ها می‌گوید، شعله های بهار عربی هرگز خاموش نشده است.
تظاهرات اعتراضی که در سال ۲۰۱۹ کشورهای عربی را در بر گرفت، هیچ نام جذابی به خود نگرفت، اما این اعتراضات به اندازه‌ی بهار عربی ۱۰ سال پیش برای رهبران این کشورها پیامد داشته است.
متأسفانه وضعیت کشورهایی مانند الجزایر، عراق، لبنان و سودان که در سال ۲۰۱۹ به لرزه در آمدند، اندکی بهتر از کشورهای است که در اثر بهار عربی زیر و رو شدند.
آیا امکان دارد طوری که بعضی ها باور دارند که عرب ها نمی توانند به آسانی پیرو دیموکراسی شوند؟
بعضی ها معتقدند که نظامیان این منطقه بیش از حد سیاسی هستند و این از گشایش واقعی خاورمیانه جلوگیری می‌کند. برخی دیگر می گویند که گرایش‌های سخت‌گیرانه اسلامی محلی با تکثرگرایی نمی‌سازد. آیا تونس، که از اسلام‌گرایان و مردمی برخوردار است که ظاهراً یاد گرفته‌اند از سیاست‌مداران منتخب اطاعت کنند، همان استثنائی است که این قاعده را اثبات می کند؟ برای نتیجه گیری هنوز خیلی زود است.
تخم دیموکراسی مدرن هنوز به خوبی در جهان عرب کاشته نشده است. شهروندان کشورهای خاورمیانه به اندازه مردم سایر نقاط جهان تشنه‌ی انتخاب رهبران خود هستند. آنچه آن‌ها بیش از همه نیاز دارند این است که نهادهای مستقل دانشگاه‌ها، رسانه‌ها، گروه‌های فعالین مدنی و بالاتر از همه دادگاه‌ها و مساجد از حکومت شکل گرفته و تکامل یابند. تنها در آن صورت است که فضا برای یک شهروند متعهد و آگاه ایجاد خواهد شد. تنها در آن صورت است که مردم خواهند پذیرفت که اختلافات سیاسی را می‌توان به صورت مسالمت‌آمیز حل کرد.
عرب‌ها باید آزادی بیشتری برای بحث و گفت‌وگو داشته باشند. مکاتب خاورمیانه به جای تمرکز بر آموزش تفکر انتقادی، بر یادگیری طوطی‌وار تأکید دارند. رسانه‌ها و مساجد در این منطقه تمایل دارند طوطی‌وار موضع حکومت را بیان کنند. حاکمان مستبد خاورمیانه به دنبال به خدمت گرفتن رسانه‌های اجتماعی نیز هستند. همه‌ی این‌ها باعث بی‌اعتمادی به خود اطلاعات می‌شود. نظریه‌های توطئه در خاورمیانه شایع است. عرب‌ها تمایل دارند نه تنها به حکومت‌هاشان بی‌اعتماد باشند، بلکه به یک‌دیگر نیز اعتماد ندارند. بخشی از آن ناشی از نظامی است که برای انجام پیش‌پاافتاده‌ترین وظایف و خدمات برای شهروند، رشوه و واسطه می‌خواهد. فساد اعتماد به دولت را تضعیف می کند. تعداد کمی باور دارند دولت‌شان به خیر همه می‌اندیشد. حاکمان مستبد مردم را تشویق می‌کنند که به سیاست از زاویه صفر فکر کنند: اگر گروه دیگری قدرت را به دست آورد، همه ای پول و مشاغل دولتی را در اختیار خود خواهند گرفت. آن‌ها مخالفان‌شان را به عنوان افراطی‌هایی معرفی می کنند که آرزوی مرگ هموطنان خویش را دارند.
جای تعجب نیست که که دیموکراسی نتوانسته است در چنین زمین خشکیده ریشه بدواند، اما در طولانی مدت می شود این زمین را پربار ساخت. توسعه آموزش و پرورش امر حیاتی است. کشورهای خارجی بخصوص غربی باید بیشتر از قبل دانشجوی عرب بپذیرند. باید از روزنامه‌نگاران، فعالان حقوق بشر و سازمان‌های مردمی عرب حمایت کنند. رشد فرهنگ کثرت گرایی زمان زیاد نیازد دارد، اما وضعیت فعلی طوری که ده سال قبل یک میوه فروش بیچاره در کشور تونس بطور غم انگیزی از خود به نمایش گذاشته بود، ناپایدار و تداوم‌ناپذیر باقی مانده است.

# په یوه کال کې ۱۸زره بریدونه؛

## امنیتي ادارې: طالبانو په مذاکراتو کې د امتیازاتو لپاره تاوتریخوالی ډېر کړی



په هېواد کې د نا امنیو له زیاتېدو سره هممهاله، د امنیتي ادارو مسوولین د مشرانو جرګې غونډې ته وربلل شوي وو او د وروستي وضعیت په اړه یې معلومات ورکړي دي. د کورنیو چارو وزیر مسعود اندرابي د خپلو خبرو پر مهال وویل چې طالبانو د سیمو د نیولو وړتیا بایللې، نو اوس هڅه کوي د مقناطیسي ماینونو او هدفي بریدونو له لارې ځان خپلو موخو ته ورسوي. د ملي امنیت د لوی ریاست رییس بیا وایي چې طالبانو روان کال تر دې دمه د اتلس زرو په شاوخوا کې بریدونه کړي دي.
په وروستیو کې د پلازمېنې کابل په ګډون د هېواد په ډېری ولایتونو کې امنیتي وضعیت خورا ترینګلی شوی دی. ځانمرګي بریدونه او هدفي وژنې هغه څه دي چې د خلکو ژوند یې تریخ کړی دی. ورمه ورځ د ولسي جرګې غړو په خپله عمومي غونډه کې د خبرو پر مهال پر امنیتي وضعیت نیوکه وکړه او ټینګار یې وکړ چې امنیتي ادارې د خلکو د امنیت په تامین کې ناکامې دي. له دې سره جوخت مشرانو جرګې د امنیتي ادارو مسوولین وربللي وو.
د کورنیو چارو وزیر مسعود اندرابي مشرانو جرګې ته د خپلو خبرو پر مهال وویل چې طالبان کمزوري شوي دي، له امنیتي ځواکونو نوې سیمې نه شي نیولی، نو د دې لپاره چې د رسنیو پام ځان ته واړوي، په هدفي بریدونو او په ښارونو کې په چاودنو لاس پورې کوي. اندرابي وایي، طالبانو ځکه تاوتریخوالی ډېر کړی چې وکړی شي د مذاکراتو پر مېز لا ډېر امتیازات واخلي. د ده په خبره، په کابل او ولایتونو کې په هدفي بریدونو کې د طالبانو لاس دی او دغه ډله غواړي په دې توګه فشارونه ډېر کړي او د سولې په خبرو کې امتیازات واخلي. هغه د خپلو خبرو په دوام وویل چې طالبانو د دوحې تر هوکړې وروسته د عبیده په نامه ډله جوړه کړې او دغه ډله په ولایتونو، په تېره په کابل کې هدفي بریدونه کوي. هغه وایي: ((د ځینو نیول شوو کسانو له اعترافاتو ښکاري چې طالبانو په لوګر کې د عبیده په نامه نوې ډله جوړه کړې ده. دغه ډله دولتي کارکوونکي، خبریالان او مدني فعالین په نښه کوي. دوی په دې توګه غوغا جوړوي)).
د دې تر څنګ د کورنیو چارو وزیر دا هم وایي چې د بریدونو د مخنیوي لپاره یې د ملي امنیت له لوی ریاست سره په ګډه د یو لړ عملیاتو د ترسره کولو پلان جوړ کړی او په دې کې به د هغو کسانو پر ضد عملیات کوي چې دغه ډول بریدونه ترسره کوي.
د ملي امنیت لوی ریاست رییس هم مشرانو جرګې ته د خپلو کړنو په اړه د وضاحت ورکولو پر مهال وویل چې روان کال تر دې دمه په هېواد کې شاوخوا ۱۸ زره او ۲۰۰ بریدونه شوي چې له دې ډلې د ۹۹ سلنې مسوولین وسله وال طالبان دي. د ده په خبره، دغه ډله لا هم ډول ډول بریدونه ترسره کوي او د سولې تر تړون یې وروسته جګړې او بریدونه ډېر کړي دي. احمد ضیا سراج دغه راز وایي چې روان کال افغان امنیتي ځواکونو لسګونه عملیات ترسره کړي چې په دې لړ کې یې ٦ زره او ۱۰۰ شکمن کسان نیولي چې له دې ډلې ۳ زره او ٦۰۰ یې په ترهګریزو فعالیتونو کې د لاس لرلو په تور نیول شوي دي. سراج همدا راز د هغو کسانو پر وړاندې د ګڼو عملیاتو د ترسره کېدو خبره کوي چې په هدفي بریدونو کې لاس لري. د ده په خبره، په دې بریدونو کې د لاس لرلو په تور ۷۰ کسه نیول شوي دي.
د افغانستان دغه مهم امنیتي بنسټونه داسې مهال په خپلو چارو کې د لاس ته راوړنو خبره کوي، چې په دې وروستیو کې په کابل ښار کې کابو هره ورځ له یوې تر دوو پورې د مقناطیسي ماین چاودنې کېږي. د معلوماتو له مخې، په وروستیو ۱۲ ورځو کې په کابل ښار کې ۱۷ امنیتي پېښې شوي چې له امله یې ۲۴ کسان وژل شوي او ۸۰ نور ټپیان شوي دي. سره له دې چې وسله والو طالبانو په ګڼو وروستیو بریدونو کې لاس لرل رد کړي، خو امنیتي ادارې وایي چې دا د طالبانو کار دی او د فشار رامنځ ته کولو په لټه کې دي.

# بایډن: د ټرمپ تر حاکمیت لاندې مهمو امنیتي ادارو ته سخت زیانونه رسېدلي


د امریکا منتخب ولسمشر جو بایډن وایي، د ولسمشر ټرمپ له ادارې سره په خبرو او د نوموړي له انتقالي ټیم سره د ملي امنیت پرسر په مهمو مسایلو خنډونه لاهم پرځای پاتې دي.
جو بایډن ویلي، د ده ټیم د دفاع وزارت د مشرانو او مدیریت او بودجې په ادارو کې له خنډونو سره مخ شوی دی. هغه زیاته کړې، کله چې دوی هڅه کوي چې د واک د انتقال په خاطر مهم معلومات راټول کړي، په دې برخه کې ورته ستونزې جوړېږي.
د بایډن په خبره، دی هڅه کوي له اوسنۍ ادارې څخه په نړۍ کې د امریکایي ځواکونو په اړه روښانه معلومات تر لاسه کړي. نوموړي ویلي، چې د ده ټیم غواړي د دفاع وزارت او نورو ادارو د بودجې پلان ته لاسرسی ولري.
بایډن وروسته له هغې دا خبرې کوي، چې ده او د ده مرستیالې کامیله هایرېس له انتقالي ټیم څخه د ملي امنیت، د بهرنیو چارو وزارت لپاره د کاندیدانو او د راتلونکي ملي امنیت سلاکار په اړه معلومات تر لاسه کړل.
جو بایډن ویلي، چې د ده ټیم موندلې چې مهمو امنیتي ادارو د ټرمپ تر ولسمشرۍ لاندې سخت زیان لیدلی دی. بایډن همداراز د نړیوال ائتلاف جوړولو پر اړتیا هم خبرې کړې دي.
د ده په وینا، دا ډول ائتلاف د اقلیمي بدلون، د کرونا ویروس د مخنیوي او د ځینو هېوادونو له خوا د مخ پر زیاتېدونکي خطر د مخنیوی لپاره ډېر مهم دی.
د ټرمپ د بهرنۍ پالیسۍ مهم ټکی دا و چې لومړی امریکا، او د ده ادارې نړیوالو ائتلافونو او موافقو ته شا کړې وه. وروسته له هغې چې ټرمپ، جو بایډن ته انتخابات وبایلل، کرېسټېفو مېلر د دفاع وزارت د مرستیال په توګه انتخاب کړ.
مېلر د ډسمبر په ۲۸مه یوه اعلامیه خپره کړه او پکې یې وویل، چې له انتقالي ټیم سره د دفاع وزارت د همکارۍ هڅې له دریو اونیو راهیسې ښې روانې دي.
د دفاع وزارت چارواکو زیاته کړې، چې دوی به په شفافه توګه د واک انتقال ملاتړ ته دوام ورکړي.
په پنټاګون کې دا تغیرات وروسته له هغې راغلي، چې له ایران سره د امریکا اړیکې نور هم ترینګلې شوې او ټرمپ تور پورې کړی، چې په دې وروستیو کې په عراق کې پر امریکایي سفارت راکټي بریدونه ایران کړي دي.
امریکایي چارواکو څرګنده کړې، چې ایران په عراق کې د جنورۍ په درېیمه د امریکا په هوایي برید کې د لوړپوړي ایراني جنرال قاسم سلیماني د وژل کېدو د کلیزې پر مهال دا اقدام د غچ اخیستلو په هدف کړی دی.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېیمه برخه
### کشمیر




په اوړي کې به څه کېږي؟ په دې پورې تړاو لري چې لومړی به په ژمي کې څه کېږي؟ معمولاً د جمو کشمیر حکومت چې «جمو» ته انتقال شي، نو نسبي امنیت وي. خو د ۲۰۱۷-۲۰۱۸ د ژمي شپږ میاشتې مهمې دي. حکومت چې جمو ته کډه شي، نو ټولې چارې به هم ورسره جمو ته لاړې شي. د پوځ کمپونه، ملېشې او پولیس ټول جمو ته ځي. په جمو کې حالت پوره خراب دی، په وروستیو کې خو ان جمو ته د پنجاب نږدې پرتو سیمو کې هم څو پېښې وشوې. یوه پېښه په «ګورداسپور» او بله په «پټانکوټ» کې شوې وه. زما خو سپینې تښتېدلې دي. فرضاً په «ګرانډ ټرنک روډ» کې یوه پېښه وشي، په جالندر کې وشي او یا په «امبالا» کې وشي؛ نو دا سیمې خو تقریباً د ډیلي په ګاونډ کې پرتې دي.

ګورو به چې په ژمي کې څه کېږي؟

جنرال صېب وویل، په بدو حالاتو کې خبرې کول مرسته کولای شي. ځینې کسان استدلال کوي چې موږ خبرې کوو یا خبرې پیلوو، نو ټکه را پرېوځي، یوه بده پېښه رامنځته شي. ښایي دا به بده وي خو په اوږدمهال کې موږ ته ګټه لري. خبرو ته باید څه وخت ورکړل شي، باید خبرې وغځول شي.

دوراني: پر دې پوهېدل دا چې څه به کېږي، پر ټول علم احاطه نه غواړي. کله کله باید سړی د دې جرئت وکړي او ووایي چې دا کار کېدونکی دی. ستونزه معلومه ده؛ نا ارامي په یو ډول نه یو ډول پیل کېږي، د دولت لومړنی غبرګون ډېر سخت وي. که دولت صبر وکړي، نو وحشت او اضطراب خپرېږي، نا ارامي هم ښایي ورسره پراخه شي. لومړنۍ وسیله چې کارېږي، هغه پوځ دی. بیا پرته له دې چې خلک یې درته ووایي، اوضاع درته وایي چې حالت خراب دی، بیا نو ستاسې هم د خلکو د غمونو په تړاو خبرې کولو ته زړه کېږي. خو همدا چې حالت کابو شي، نو معمول عکس العمل دا وي چې بل کار ته اړتیا نشته، بیا نو یو بل کار ته لاس واچوي. دولت زور کارولای شي، کله خو بېخي ظلم کوي او پایلو ته یې نه ګوري. په نا ارامۍ کې دوې لارې وي، یا به تکتیکي شاتګ کوي یا به پاتېږي او لوی تاوان به کوي. خو بیا سر راپورته کول ناچاري ده. د هغه خبره سمه ده، دا به شپږ میاشتې وي، یا به شپږ کاله.

دا که کشمیر دی او که بلوچستان بیا به را پاڅېږي. که مقاومت قوي او اغېزناک وي، نو چې بیا ځلې راپورته شي، تر پخوا لا سخت دریځه وي. مثلاً د برهان تر مرګ وروسته کشمیر. ښایي دا نوې لړۍ د ۲۰ - ۳۰ کلونو پخوا په پرتله په کوچني محرک را پورته شي، خو نوی پاڅون تر پخوا لا ډېر وحشي او ډېر جدي وي.

افغان مجاهدین بې ضرره خلک وو، یوازې له بهرني اشغال سره جنګېدل. ځینې بیا طالبان شول، لړ توندلاري او دا بله القاعده. که القاعده ختمه کړی، نو داعش سر راپورته کوي. دا سلسله دغسې ده.

که تاسې ما بدبین بولی او که نهیلی کوونکی، خو ما ته دا واقعیت ګرایي ښکاري چې پاکستان او هند به په نږدې راتلونکې کې پر کشمیر خبرې و نه کړي.

دولت: که خبرې کار ورکړي، نو کشمیریان به سمدستي یو سیاسي تعامل غواړي. دغسې پرېکړه د «دانشور شرما» تر سویې لوړه ده.

زموږ هېر دي چې د کشمیر مسئله پوځي نه ده. جنرال صېب رښتیا وایي، کله چې لړه ګډوډي جوړه شي، نو لومړنی غبرګون دا وي چې راځئ و یې ځپو، بیا به وګورو چې څه کېږي. دا به سمه وي خو باید هېر مو نه شي چې دا یوه سیاسي مسئله ده. په کشمیر کې دا یوه احساساتي مسئله ده. پکار ده داسې غیر ضروري خبرې و نه‌شي چې د کشمیریانو ارواه ټپي شي؛ لکه د پوځ مشر چې تر ګومارل کېدو وروسته وکړې، چې دا به پر پوځي عملیاتو اغېز و نه کړي. هر چا ته پته ده چې دا به و نه درېږي، خو ولې داسې خبرې وکړو. که داسې خبرې کېږي، نو مانا خو یې دا ده چې د «دانشور شرما» هڅې دوه توته هم نه ارزي.

همدغسې، کله چې موږ له کشمیریانو سره د خبرو پرېکړه کوو، نو کرښې معلومې دي، دا خبرې به د اساسي قانون په رڼا کې کېږي. هغه به لوی لوده وي چې داسې ګومان کوي چې ګواکې د کورنیو چارو وزیر یا لومړی وزیر ...

سېنها: یا د هند ولسمشر.

دولت: ... به تر اساسي قانون پورته پرېکړه کوي. پروفیسر «بټ» ما ته وویل: «یہ باتیں آپ کیوں کرتے ہو» مطلب تاسو دا خبرې ولې کوئ؟ که کشمیریانو ته له دې خبرې پرته چې راځئ تاسو چې پر هر څه خبرې کول غواړئ، کوو یې درسره، موږ روښن فکره؛ نورې خبرې به د کشمیریانو پر زخمونو مالګه دوړول وي.

«اډواني» (چې د ملي دفاع اکاډمۍ ته د شمولیت په امتحان کې یې تر ګردو لوړې نومرې اخیستې وې) داسې ویل. د دې «حریت» غړیو له ده سره دوه بلا خبرې کړې دي، له دوی چې وپوښتې درته به ووایي چې «اډواني جي» معقول انسان و. د «حریت» د غړیو لومړۍ غوښتنه دا ده چې د دوی ځینې بندیان دې خوشې کړل شي.«اډواني جي» به ورته ویل چې موږ ته مو لېست را وسپارئ. بیا به یې ورته ویل: نورې کومې غوښتنې لرئ؟ پروفیسر بټ ورته ویلي وو چې ښاغلیه موږ به تاسې ته خپله طرحه در وسپارو. د ۲۰۰۴م په مې کې دوی یوه طرحه جوړوله، خو «BJP» انتخابات وبایلل. خو که دوی انتخابات ګټلي هم وای، دا طرحه به پر مېز هواره شوې نه وه، ځکه موږ داسې خبرې ته ذهني تیار نه یو. له جوړجاړې او معززې سولې پرته تر اوسنیو حالاتو ور اخوا پر نورو شیانو بېخي لږې خبرې کېدای شي. **دوام لري...**

# حکومتونه څه ډول چلېږي؟

اکسوس کتابپلورنځی

«حکومتونه څه ډول چلېږي؟» د پاکستاني لیکوال «مظفر اې غفار» اثر دی چې پر لیکلو یې د ده په وینا ۱۱ کاله تېر کړي دي. دغه کتاب تازه پښتو ته محمد زبیر شفیقي ژباړلی، چې همدا پښتو بڼه یې په ۲۶۲ مخونو کې راټوله شوې ده.

په دې اثر کې د حکومت فلسفه، دندې یې د رامنځته کېدو او پیاده کېدو بهیر، بېلابېل حکومتي نظامونه، د حکومت د ځواک او کمزورۍ لاملونه او د نړۍ د بېلابېلو حکومتونو ځینې بېلګې لوستلای شی.

د دې کتاب په باب د لاهور د پنجاب پوهنتون د فلسفې څانګې مشر دغه اثر په اردو کې په خپل نوعیت کې لومړنی اثر بولي، چې ډېر فکرونه په ممکنه لنډو الفاظو پکې بیان شوي دي، په رښتیني مانا دغه کتاب د «سمندر په کوزه کې» مصداق دی.

حکومتونه څه ډول چلېږي؟ د بېلابېلو حکومتي نظامونو تنقیدي ارزونه ده، په تېره د پانګوالي، کمونیستي، سیکولریستي او مذهبي حکومتونو هسکې ټیټې، کمزورۍ او ښېګڼې له عملي مثالونو سره پکې تشریح شوي دي. پر دې سربېره، د حکومتونو په باب په نړیواله کچه فکري لیدلوري له بېلګو سره راغلي دي.

دغه اثر په (۲۰۰۵ ز) کال کې خپور شوی چې په څو کلونو کې څو ځله چاپ شوی دی.


ځانګړتیاوې یې په لنډو ټکیو کې دا دي:

۱- د کمونېزم او لیبرال ډیموکراسۍ نظامونه تجربه شول چې ناکام دي، لیکوال د یوه بدیل نظام وړاندیز لري. په دې کې نوموړي ان د خپل بدیل نظام یوه خاکه هم وړاندې کړې ده چې ډېر په زړه پورې او مهم ټکي لري. تر ټولو مهمه دا چې لیکوال د فکر او نظر خاوندانو ته وړاندیز کوي چې د بدیل نظام په باب دې دوی د فکري بحثونو دروازې پرانیزي او دې ته اړتیا ده چې دا کار وشي.

۲- لیکوال د اسلامي نړۍ اوسنی وضعیت او ورپېښې ستونزې ډېرې تفصیلي بیان کړې دي، په تېره د یوه داسې نظام نشتوالی یې چې د ټولو فکري او فرقه‌یي ډلو لپاره یو ماډل او بېلګه شي، لویه اړتیا بللې ده. په دې برخه کې هم لیکوال خپل وړاندیزونه لري او د فکر او نظر خاوندانو ته بلنه ورکوي چې د دې تشې د پوره کولو لپاره عملاً لاس پکار شي.

په دې تړاو لیکوال د اجتهاد پلوی دی؛ خو د یوه فرد پر ځای یې وړاندیز د یوه اجتهادي نړیوال مرکز پرانیستل دي، چې د ټولو فکري او مذهبي ډلو وړ شخصیتونه پکې راټول شي او د اختلافي مسایلو په تړاو یو دریځ او نظر رامنځته کړي.

۳- په دې اثر کې د کمونیستي او سیکولر نظامونو اصلي ستونزه دا بولي چې هغوی د انسان یو اړخ (مادي ژوند) راټینګ کړی او بل اړخ (معنوي اړتیاوې) یې له پامه غورځوي.




نوموړی د خپل بدیل نظام مهمه ځانګړتیا همدغه بولي چې باید داسې نظام راشي، چې د انسان دواړې اړتیاوې په متوازن ډول په پام کې ولري.

ژباړن وایي: ما د دغه اثر په ځینو برخو کې د وضاحت، یادښت او یا د ګران هېواد د رواني وضعې په تړاو عیني بېلګې اړینې بللې دي، چې د «پښتو ژباړن» په توګه پکې راغلې دي.

ژباړن وایي: په لنډو ټکیو کې زه خپلو درنو هېوادوالو په تېره ځوان پاړکي ته د دغه کتاب لوستل ډېر اړین بولم، دغه اثر به په دوی کې د فکر نوې دروازې پرانیزي، ډېرو ناخوالو ته به له نوې زاویې وګوري. زه یې منورو ځوانانو ته د لوستلو سپارښتنه کوم. له خدایه غواړم چې په لوستو یې له یوه رغنده او تازه احساس سره د هېواد د روان ناورین په پای ته رسولو کې ونډه واخلي.

مینه وال کولای شي یاد کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

| روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه | | | |
|---|---|---|---|
| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
| ۱ | عرفاني ادبیات | سراج احمد حبیبي | ۱۸۰؋ |
| ۲ | تشریحي‌ژبپوهنه | نصیراحمد طاهري | ۱۵۰؋ |
| ۳ | د درویش دراني په اشعارو کې د قافیې او بدیعي ښکلاوو څېړنه | هوسا یوسفزۍ نوري | ۱۸۰؋ |
| ٤ | هنري انځور په قرآن کې | سیدقطب/عبدالرحمن‌فرقاني | ۲۰۰؋ |
| ۵ | سراج الایضاح | نورالایضاح/محمدالحسن جاهد | ۱۲۰؋ |
| ٦ | د نړۍ ادبیات | ګل رحمن رحماني | ۲۵۰؋ |
| ۷ | ببواکه صورتونه | اجمل ښکلی | ۱٦۰؋ |
| ۸ | مبانی سازمان و مدیریت | خلیل الرحمن سروری | ۳۵۰؋ |
| ۹ | د سازمان او مدیریت بنسټونه | علي رضائیان/عمران لمر | ۳۷۰؋ |
| ۱۰ | د فېنکو ماموریت | نسرین احساس | ٦۰؋ |
| ۱۱ | د سیاسي لوبو ډګر | وحیدالله صدیق | ۷۰؋ |
| ۱۲ | د ناکامو دولتونو رغاونه | محمد اشرف غني او کلیر لاکهارټ/نظام الدین کټوازی | ۳۰۰؋ |
| ۱۳ | محاسبه دولتی | میرمحمد فاروق حیدری | ۱۸۰؋ |
| ۱٤ | سیتم های حقوق معاصر جهان | نصرالله ستانکزی | ۲۵۰؋ |
| ۱۵ | مالي حقوق اوعمومي مالیه | سلطان محمد عایل | ۱۵۰؋ |
| ۱٦ | انسان د مانا په لټه کې | ویکتور فرانکل/روح الله زهیر | ۱۵۰؋ |
| ۱۷ | تغییر بزرګ جهان درسال ۲۰۵۰ | دانیل فرانکلین و جان اندروز | ۳۵۰؋ |
| ۱۸ | د بریا تمځای | عائض القرني/محمدظاهر عمار | ۱۳۰؋ |
| ۱۹ | مالي محاسبه | ذبیح الله مدثر/عارف خان ترابي | ۲۲۰؋ |
| ۲۰ | دیپلوماسی و رفتار بین المللی در اسلام | بهرام اخوان کاظمی | ۱۵۰؋ |
| ۲۱ | د حجاز سیلۍ | عنایت الله التمش/عبدالواسع صابر | ۲۲۰؋ |
| ۲۲ | جاسوسان برتر | حمید عشقی | ۳۰۰؋ |
| ۲۳ | د سیمه ییزو حکومتونو اداره | سیدمحمد مقیمي/عبدالمتین ستانکزی | ۲۷۰؋ |
| ۲٤ | د مخدره توکو ارواپوهنه | ذکی الله ذکي | ۱۵۰؋ |
| ۲۵ | د عامه بودیجې تیوري | سیدمحمد ټینګار | ۱٦۰؋ |
| ۲٦ | LONGMAN PREPARATION COURSE FOR THE TOEFL IBT TEST 3RD EDITION | STEVEN J. JATTHIESEN | ۵۰۰؋ |
| ۲۷ | BARRON'S TOEFL IBT SIXTEENTH EDITION | | ۵۵۰؋ |
| ۲۸ | The OFFICIAL GUIDE to the TOEFL iBT Test SIXTH EDITION | | ۵۵۰؋ |
| ۲۹ | ESSENTIAL WORDS FOR THE TOEFL 7TH EDITION | | ۱۷۰؋ |
| ۳۰ | حکومتونه‌څه‌ډول چلېږي؟ | مظهر اې غفار/محمدزبیر شفیقي | ۲۳۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیانی

# پر ځان د باور پیدا کولو لپاره ۱۱ اړین ټکي

ژباړه: عایشه حیدري

ډېری خلک پر ځان د باور په مانا نه پوهېږي، له همدې امله په ژوند کې پر ځان باور نه شي تجربه کولای. خلک په دې اند دي چې پر ځان باور لرل هغه برياوې دي چې دوی د ځينو کړنو په تر سره کولو کې تر لاسه کړې دي.

په داسې حال کې چې داسې نه ده، رښتينې ځان باوري هغه ده چې يو انسان وړاندې تر دې چې په يوه کار کې بريالی شي، په ځان کې د بريالیتوب او هغه کار د تر سره کولو ځواک ووينې.

د بریالیتوب او خپلو هيلو ته د رسېدلو يوه لويه ځانګړنه او يو لوی راز پر ځان باور دی، هر هغه څوک چې لوړې هيلې لري بايد پر ځان باور ولري، ځکه همدا پر ځان باور دی چې انسان د موفقيت لوړو څوکو ته رسوي.

ډېری کسان داسې ګومان کوي چې ماشوم وړاندې تر دې چې ښوونځي ته د تللو عمر ته ورسېږي، هېڅ ډول منفي او مثبت احساس نه شي پېژندلای، خو ارواپوهان وايي چې ماشوم د خپلې اروا يوه اړينه برخه چې هغه پر ځان باور لرل دي، تر پنځه کلنۍ وړاندې پوره کوي.

ياد مو وي هر څوک چې پر ځان باور ولري، هغه ارومرو بريالي کېږي، ځکه ځان باوري انسان ته ډېره انرژي ورکوي او انسان لا ډېرو هڅو ته اړ باسي.

موږ په همدې ليکنه کې تاسو ته د پر ځان باور او د دغه ځواک د پياوړي کولو پر لارو چارو د پوهېدو لپاره يوولس اړين ټکي ښيو.

**۱- ځان وپېژنئ!**

ځان پېژندنه ډېره اړينه ده، نو هڅه وکړئ چې تر هرڅه مخکې خپل ځان وپېژنئ. بويه د خپل ځان، خپل شخصيت، خپلو اخلاقو او د خپلو مهارتونو په اړه پوره مالومات تر لاسه کړئ او ځان په سمه توګه وپېژنئ. دې ته بايد هېڅ اندېښنه ونه کړئ چې ستاسو په وجود کې څه کم دي، ځکه انسانان ټول نيمګړي دي. که چېرې په ياد شوو برخو کې په يوه ځانګړې برخه کې کمی لری او يا هم ستاسو کومه ځانګړنه نيمګړې ده، هېڅ اندېښنه مه کوئ، هر انسان کولای شي په خپلو اخلاقو کې مثبت بدلون راولي، خپل شخصيت جوړ کړي او ډېرې حرفې زده کړي. که په دې نه پوهېږی چې څنګه په خپل شخصيت او اخلاقو کې مثبت بدلون راولی او ستاسو شاوخوا ته د مشورې لپاره هېڅوک نشته، نو کولای شی له روغتياپالانو او ارواپوهانو څخه مرسته و غواړئ، هغوی به تاسو ته ستاسو د ستونزو د حل لپاره سلا مشورې در کړي.

**۲- د کمزورتيا ټکي مو پيدا کړئ!**

پر ځان د باور پياوړتيا لپاره دويم اړين ټکی ستاسو د کمزوريو پېژندل دي، هڅه وکړئ چې د خپل وجود د کمزورۍ ټکي وپېژنئ او د له منځه وړلو لپاره يې کلک هوډ وکړئ. که چېرې نه شی کولای د خپل وجود د کمزوريو ټکي له منځه يوسی، په خپل حال يې پرېږدئ او د جبران کولو لپاره يې له نورو لارو ګټه واخلئ.

د بېلګې په ډول، که چېرې کومه جسمي، ارثي او يا هم مور زېږدې کمزوري ولری، کولای شی د ژوند د دغه تش ځای د ډکولو لپاره خپلې علمي او هنري وړتياوې پياوړې کړئ.

**۳- هغه څه وکړئ چې وړتيا يې لرى!**

پر ځان د باور پياوړي کولو لپاره هغه کړنې تر سره کړئ چې وړتيا يې لری، څو د ذکاوت او بریالیتوب احساس وکړی او ستاسو په بدن کې د ځان باوري احساس پياوړی شي. هر انسان خپلې ځانګړې ځانګړنې لري، څوک په پخلي کې، څوک په غره مزل (کوهنوردي) کې او څوک هم په خياطۍ او داسې نورو کړنو کې ښه وړتيا لري. تر هر څه اړينه دا ده چې ستاسو اروا او ستاسو بدن له کوم ډول کارونو سره د ارامتيا احساس کوي.

**۴- هغه کارونه در ياد کړئ چې تاسو په سمه توګه سرته رسولي دي**

کېدای شي په لومړيو کې ستونزمن کار وي، خو د وخت په تېرېدو سره به تاسو د ورو لاسته راوړنو په يادولو ارامتيا تر لاسه کوی او ستاسو د وجود د پر ځان باور کولو احساس به پياوړی شي. کېدای شي تاسو د ليکنې د دې کرښو په لوستلو ووايئ چې زه خو هېڅکله بريالی شوی نه يم، خو دا وېره يوازې تاسې نه لری، ځکه هر انسان په خپل ژوند کې ډېرې لاسته راوړنې لري او تاسو هم ارومرو ځينې برياوې لرى.

د بېلګې په ډول، په ازموينه کې برخه اخيستنه، د شهادت نامې لاسته راوړل، د وزن کمول او دې ته ورته لسګونه نورې کړنې د انسان د بریالیتوب بېلګې دي او انسان يې بايد له پامه ونه غورځوي او دغو کړنو ته په سوچ کولو سره په خپل وجود کې د ځان باورۍ احساس پياوړی کړي.

**۵- تېروتنې مو ومنئ!**

ستاسو هر ډول احساس نيغ په نېغه ستاسو پر کړنو، ليدلوري او فکرونو اغېزه لري. که چېرې تر تېروتنې وروسته بد احساس لری، ځان ته دا ډاډګيرنه ورکړئ چې له انسان نه تېروتنه کېږي او تاسو هم تېروتنې کولای شی.

هر کله مو چې بد احساس درلود، له خپل منفي فکر سره مخه ښه وکړئ، ځکه دا سوچونه به د دې لامل شي چې تاسو د خپل ځان په اړه بدبينه شی.

**۶- له هغو کسانو لرې اوسئ چې پر تاسو باور نه لري**

ستاسو شاوخوا ته د هغو کسانو شتون اړين نه دی چې پر تاسو باور نه لري او تل تاسو ته په ټيټه سترګه ګوري، له دغه راز خلکو واټن ونيسئ. کله چې ستاسو په ژوند کې هغه کسان چې پر تاسو باور نه لري او يا مو وړتياوې نه مني، نه وي؛ ستاسو د ژوند خنډونه به له منځه لاړ شي او تاسو کولای شی چې په اسانۍ سره پرمختګ وکړی.

**۷- مه ناهيلي کېږئ!**

هېڅکله د خپل ژوند نېکې هيلې له لاسه مه ورکوئ، ځکه همدا هيلې دي چې ستاسو ځان باوري پياوړې کوي، که چېرې تاسو خپلې هيلې له لاسه ورکړئ، ستاسو د ځان باورۍ احساس به مړاوی شي.

**۸- ځان ته د ناتوانه انسان په سترګه مه ګورئ!**

هېڅکله دا مه وايئ چې تاسو ناتوانه يی او تاسو ماتې خوړلې ده. که چېرې ستاسو په ژوند کې داسې کسان وي چې تاسو ته د ناتوانه او ماتې خوړلي انسان ګومان کوي، د داسې کسانو تر اغېز لاندې مه راځئ. ځکه چې که تاسو دا ډول سوچ وکړی، ستاسو په وجود کې د ځان باورۍ احساس له منځه ځي او ستاسو د مهارتونو او ځواک کچه به را ټيټه شي. تل ځان ته د پياوړي او ځواکمن انسان په سترګه وګورئ او د ناتوانۍ افکار له ذهنه وباسئ.

**۹- ځان له نورو سره مه پرتله کوئ!**

که څه هم ټول انسانان دغه عادت لري او تل ځان له نورو سره پرتله کوي، خو که چېرې پر ځان د باور لرلو قوي احساس غواړی، نو هېڅکله هم خپل ځان له نورو سره مه پرتله کوئ او يوازې د خپل ژوند نن له پرون سره پرتله کړئ او وګورئ چې پروني (تاسو) له نن (تاسو) سره څومره توپير کړی دی. که پرمختګ او بریالیتوب ته مو مخه کړې وي، نو دا ډېره ښه خبره ده، تاسو بايد د ارامتيا احساس وکړئ.

**۱۰- د هغو کسانو پر پل ګام کېږدئ چې پر ځان قوي باور لري!**

څېړنو ښودلې چې د هغو کسانو د کړنو تقليد چې پر ځان ډېر باور لري، د ټېسټوسټېرون Testosterone هورمون د ترشح لامل ګرځي، دغه هورمون د انسان په بدن کې د پياوړتيا ځواک د احساس کچه لوړوي. هڅه وکړئ چې د درېدو پر وخت نېغ او هسک ودرېږئ، په لوړ غږ وغږېږئ او د ځان باورۍ احساس وکړئ. که تاسو دغه کړنې تر سره کړی، ستاسو مقابل لوری به هم تاسو ته ډېر ارزښت درکړي.

**۱۱- خپلې ظاهري ښکلا ته پام وکړئ!**

خپلې څېرې او ظاهري ښکلا ته پام وکړئ او په ځانګړو وختونو کې ځانګړې جامې واغوندئ، که څه هم جامې د انسان د شخصيت برخه نه ده، خو د انسان پر شخصيت ارومرو خپل اغېز لري او پر ځان د باور کولو احساس پياوړی کوي. بل خوا جامې د انسان پر ذهني فعاليتونو ډېره اغېزه کوي او له هغه چا سره چې انسان مخ دی، پر هغوی هم اغېز کوي. نو تل هڅه وکړئ چې ښکلې او مناسبې جامې واغوندئ، خپله ظاهري څېره ښکلې کړئ او د خپل ژوند اتل اوسئ.



## کوفي: د امریکا او طالبانو ترمنځ د دوحې تړون، طالبانو ته سياسي هويت ورکړی




د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان دولت او طالبانو د مذاکراتي پلاوو ترمنځ د سولې درې مياشتنۍ خبرې په دې وروستيو کې د افغانستان په رسنيو کې د بحث ګرمه موضوع ده. د افغان دولت د مذاکراتي پلاوي غړې فوزيې کوفي له ازادي راډيو سره په ځانګړې مرکې کې دا خبرې له ستونزو ډکې، خو هيله ښوونکې بللې دي.

د دې مذاکراتو پايله د خبرو اترو د طرزالعمل جوړېدل وو، چې يوه سريزه، د اصلي خبرو لپاره څلور مورده او ۲۱ مادې لري او په اړه يې بحثونو څو مياشتې وخت ونيوه.

فوزيه کوفي د مذاکراتو د ستونزمنو مواردو په اړه وايي چې د دوحې هوکړه د خبرو په طرزالعمل کې د مذاکراتو د يوه اصل په توګه منل شوې، د افغان دولت پلاوی لومړی هغه د خبرو د اساس په توګه نه مني، بلکې د طالبانو د غوښتنې په توګه منل شوې ده.

کوفي زياتوي چې د امريکا او طالبانو ترمنځ د دوحې هوکړې، طالبانو ته سياسي هويت ور ښښلی دی. د هغه په خبره: «د دوحې د تړون بحث د طالبانو سياسي هويت دی. د افغانستان د اسلامي جمهوريت له خوا زموږ ټينګار دا و چې سياسي هويت، د افغانستان د خلکو غوښتنه او له ډېرو کلونو راهيسې د سولې په اړه د افغانستان د اسلامي جمهوري نظام ژمنه وه او دا بايد انعکاس پيدا کړي.»

نوموړې وايي چې د مذکراتو په طرزالعمل کې د خبرو يوه خوا هم نه ده تعريف شوې او د مذاکراتو دواړې خواوې بلل شوي دي، خو د افغان دولت په مذاکراتي پلاوي کې سرچينې له دې وړاندې ويلي چې په يوه جلا سند کې چې ناروې او دوو نورو هېوادونو هم لاسليک کړی، افغان دولت د افغانستان د اسلامي جمهوريت او طالبان د طالبانو د اسلامي تحريک په نوم ياد شوی، خو کوفي دا خبره ردوي.

د افغان دولت د مذاکراتي پلاوي غړې فوزيه کوفي دغه راز وايي چې د مذاکراتي ټيمونو له خوا هېڅکله د مؤقت دولت او اسلامي امارت موضوع نه ده مطرح شوې او په دې اړه خپاره شوې راپورونه ناسم دي.

هغه وايي چې د طالبانو ټينګار په اسلامي نظام دی او دا د هغوی له خوا هم د بحث وړ موضوع ده. کوفي زياتوي چې د خبرو په طرزالعمل کې د طالبانو جنګ (جهاد) نه دی ياد شوی، بلکې يوازې جګړه او نزاع بلل شوې ده. د هغې په خبره: «هو، دا خبره څو ځلې مطرح شوه، خو داسې کلمې وکارول شوې چې حساسيت پاروونکې نه وې. لکه بحران، نزاع او نه جهاد.»

اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۵ |
| € | ۹٤ |
| Rp. | ٤۸۰ |
| ₹ | ۱۰٤۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۲,۷ |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

مسير ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**ايډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696 | waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul | waygalprinting.co@gmail.com



چهارشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي لسمه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۳۰مه |۶۵۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۹ | ۵ | ۱۲ | ۱۵ | ۷ |
| ۶- | ۴ | ۳- | ۲ | ۳ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۰ | لمر ختل ۰۶:۵۹ | ماسپښین ۱۱:۵۶ | مازیګر ۰۳:۱۴ | ماښام ۰۴:۵۲ | ماخوستن ۰۶:۲۲

## نړۍ




### بایډن: د ټرمپ تر حاکمیت لاندې مهمو امنیتي ادارو ته سخت زیانونه رسېدلي

۳

## مشرانو جرگه: قضیۀ سناتوران بازداشت شده بطور عادلانه بررسی شود



مشرانوجرگه، خواستار رسیدگی عادلانه و دقیق به قضیۀ سناتورانی شده که به اتهام رشوه و فساد دستگیر و بازداشت شده اند. ریاست ارشد امنیت ملی و لوی څارنوالی، دو روز پیش در اعلامیۀ مشترک گفته بودند که سه سناتور به جرم گرفتن رشوت، در بندر حیرتان ولایت بلخ، بالفعل بازداشت شده اند.

گرچه نام این سناتورها در اعلامیۀ مشترک ذکر نشده است؛ اما منابع می گویند که محمد عظیم قویاش، محمد انور باشلیق و لیاقت الله بابکرخیل، در آن شامل اند.

قویاش نمایندۀ مردم سرپل در مشرانوجرگه، باشلیق باشندۀ ولایت فاریاب، و بابکرخیل باشندۀ ولایت خوست است، که هر دوی آنها سناتوران انتصابی هستند.

در خبرنامه ای که از سوی مشرانوجرگه پخش شده، آمده است که آنها همچنین اطلاع به دست آورده اند که سه عضو این جرگه، توسط لوی څارنوالی و ریاست ارشد امنیت ملی دستگیر شده اند.

به گفتۀ منبع؛ این در حالی است که جزئیات لازم در رابطه به قضیه، با مشرانوجرگه شریک نشده است. این جرگه از اداره های مرتبط، رعایت نمودن احکام قانون اساسی به ویژه رعایت کردن مادۀ (۱۰۲) قانون اساسی را می خواهند.

اما در اعلامیۀ امنیت ملی و لوی څارنوالی آمده بود که به اساس مادۀ ۱۰۲ قانون اساسی، از بازداشت این افراد، به مشرانو جرگه معلومات اطلاع داده شده است.

## د امریکا استازو جرگې د دفاعي پالیسۍ د رد پرېکړه په غوڅ اکثریت سره باطله کړه



د امریکا د استازو جرگې د ولسمشر ټرمپ له خوا د دفاعي پالیسۍ د رد یا ویټو پرېکړه باطله کړه.

دې لایحې ته د استازو جرگې ۳۲۲ غړو موافقې او ۸۷ نورو مخالفې رایې ورکړې چې د دې ویټو د باطلولو لپاره د اړتیا وړ له دریو دوه برخو څخه هم زیاتې وې. د جرگې ۱۰۹ جمهوریپال غړي هم د ډیموکراتانو ترڅنګ ودرېدل.

که دا پرېکړه د امریکا په سنا کې له دریو په دوه برخې رایو تایید شي، نو دا به لومړی ځل وي چې د ټرمپ د ولسمشرۍ د دورې د ویټو پرېکړه باطلېږي.

ټاکل شوې چې سنا د یوې اونۍ په ترڅ کې دې لایحې ته رایې ورکړي. د دفاعي پالیسۍ په لایحه کې د پوځي پروګرامونو او رغنیزو پروژو او د پوځیانو په معاشونو کې د درې فیصده زیاتوالي لپاره ۷۴۰ میلیارده ډالر غوښتل شوي دي.

ټرمپ د دې لایحې د رد لپاره څو موارد یاد کړي دي. په یوه مورد کې ټرمپ ویلي، چې دې لایحې، د افغانستان په شمول هېوادونو څخه د امریکایي سرتېرو د ایستلو په برخه کې د ده صلاحیت محدود کړی دی. یو بل مورد د یو شمېر پوځي اډو د نومونو د بدلون وړاندیز دی. په لایحه کې د هغو پوځي اډو د نومونو د بدلون وړاندیز شوی، چې په جنوبي ایالتونو کې د نولسمې پېړۍ په کورنۍ جګړه کې د مربیتوب د پلوي بېلتونپالو مشرانو په نوم نومول شوي.

## د روغتیا نړیوال سازمان: تر کرونا خطرناکې وباوې راتلونکې دي، باید چمتووالی ولرو


د روغتیا نړیوال سازمان وایي چې نړیوال دې تر کرونا د وژونکو وباوو پر وړاندې تیاری ولري. یاد سازمان په تازه خبري غونډه کې ویلي، له کرونا سره د مبارزې ټولې تجربې باید خوندي کړل شي او له وباوو سره د مبارزې لارې چارې باید پراخې کړل شي.

د دغه سازمان په خبره، په نړۍ کې تر کرونا خطرناکې او وژونکې وباوې راتلونکې دي، چې له همدې امله نړیوال باید په خپلو کې سره متحد شي او علمي څېړنې پراخې او شریکې کړي. د روغتیا نړیوال سازمان مشر تدروس ادهانوم بیا ویلي چې نړیوال دې د کرونا وبا په اړه مطالعات له یو بل سره شریک کړي او په خبره یې، د روغتیا نړیوال سازمان د کرونا وبا د نوي بڼې په اړه پلټنې پیل کړي او له برېټانیا سره په ګډه په دې اړه تحقیقات روان دي.

دا په داسې حال کې ده چې کرونا وبا لا هم په نړۍ کې په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې ده. د تازه شمېرو له مخې په ټوله نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر نږدې ۸۲ میلیونو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۷۸۴ زره او ۵۳۳ کسان مړه شوي دي.


## ژونـــد

## ډېرې اوبه څښل مو عادت وګرځوئ



د سالم ژوند د سبک دې درلودلو لپاره یوه اساسي مسئله په کافي اندازه د اوبو څښل دي. د تر سره شوو څېړنو له مخې، هر نارینه باید د ورځې ۳،۸ لېتره اوبه او هره ښځه باید د ورځې ۲،۸ لېتره اوبه وڅښي. البته ځینې وخت ښایي ځینې کسان له دې څخه زیاتو اوبو څښلو ته اړتیا ولري، ځکه کېدای شي د هغوی بدن د ځینو ځانګړو شرایطو لکه ډېر فزیکي فعالیت، د تودوخې درجه او داسې نورو د اغېز له امله زیاتې اوبه مصرف کړي. د یادونې وړ ده چې د انسان بدن ٦٠ سلنه له اوبو څخه جوړ شوی دی، له همدې امله د ورځې په اوږدو کې د بدن د حجراتو لپاره د کافي اندازه اوبو رسول ډېر ارزښت لري. پر دې اساس هڅه وکړئ چې سهار مهال او له خوب څخه تر را ویښېدو وروسته لږ تر لږه نیم لېتر اوبه وڅښئ، ځکه چې بدن مو د شپې په اوږدو کې د اوبو له کموالي سره مخ کېږي. له هغه وروسته د خپلې پاتې ورځې لپاره ځانګړی پروګرام ولرئ، څو بدن ته مو په کافي اندازه اوبه ورسوی.

## ریالمي کمپنۍ خپل نوي ځیرک ساعتونه معرفي کړل




ریالمي واچ اېس او واچ اېس پرو د دې کمپنۍ لومړني ځیرک ساعتونه دي، چې دایروي ډیزاین لري. دواړه ۱،۳ انچه مخ‌پاڼه لري او په اتومات ډول له کاروونکي چاپېریال سره سم خپله رڼایي تنظیموي. دغه ځیرک ساعتونه د زړه ضربان او په وینه کې د اکسیجن کچې معلومولو وړتیا لري. ریالمي واچ اېس ١٦ ډوله فزیکي فعالیتونه چې یوګا، فوټبال، بایسکېل، کرېکټ او داسې نور په کې شامل دي، ردیابي کوي او کمپنۍ ادعا کوي چې په یو ځل چارجولو سره تر ۱۵ ورځو پورې چارج ساتي. د ریالمي واچ اېس بیه ۴۹۹۹ هندي کلدارې ټاکل شوې او د ډسمبر په ۲۸مه به دې realme.com او فلېپ کارت له لارې خرڅلاو ته وړاندې شي. د ریالمي واچ اېس ماسټر اېډېشن بیه بیا ۵۹۹۹ هندي کلدارې ټاکل شوې او خرڅلاو ته د وړاندې کېدو نېټه یې تر اوسه نه ده په ډاګه شوې. ریالمي واچ اېس پرو د دې لړۍ تر ټولو ګران بیه ځیرک ساعت دی چې بیه یې ۹۹۹۹ هندي کلدارې ټاکل شوې ده او د ډسمبر په ۲۹مه به د realme.com او فلېپ کارت له لارې خرڅلاو ته وړاندې شي.


عزیزی بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې ویستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af | 1515